۷۰۰

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۴۳مه ګڼه، د ۱۳۹۶ لمریز کال د دلوې ۱۴مه د ۱۴۳۹ هـ ق د جمادي الاول ۱۷مه د ۲۰۱۸م د فبروري ۳یمه نېټه

اندیشه و تفکر

ترامپ؟

ناگفته‌هایی

از انگیزه‌های جنایات و کشتار در کشور

دا جګړه زمونږه نه ده

یوازې قرباني یې مونږه یو

رښتيني خلک دغه ځانګړنې لري

صداقت او رښتينولي د غوره شخصيت جوړونې لپاره يوه اړينه فرموله ده؛ ځکه ستاسې شته شخصيت په رښتينولۍ او پوره باور ولاړ دی. که تاسې خپل اعتماد او باور له لاسه ورکړئ، شخصيت ته مو زيان رسولی شي. دلته موږ تاسو ته هغه نهه ځانګړنې روښانه کوو چې رښتيني خلک يې لري او که چېرې يې تاسو يې هم په خپل ژوند کې عملي کړئ، نو تاسو هم صادقان بلل کېږئ.

لومړی: رښتيني خلک مننده وي

که تاسې له رښتينو ملګرو سره مرسته کوئ، نو هغوی حتماً له تاسو مننه او قدردانی کوي. همداراز په ټولنيز ژوند کې ډېر خلک د صادقه خلکو ستاينه کوي.

دوهم: رښتيني خلک وفادار وي

په ملګرتيا کې وفاداري تر ټولو مهم اصل بلل کېږي، ځکه په وعده وفا کول بې باوري له منځه وړي او صادقه خلک هېڅکله له ملګرو سره دوکه (وعده خلافي) نه کوي.

دريم: رښتيني خلک په خپل دريځ کلک ولاړ وي

ليدلي به مو وي چې صادقه خلک د چا تر فشار لاندې نه وي؛ ځکه خو دوی په هر حالت کې خپلې تبصرې وړاندې کوي، همدا راز دوی د چا پروا نه ساتي، له چا نه ډارېږي، او څه چې حقايق وي، پرې ټينګار کوي.

څلورم: رښتيني خلک باور نه بايلي

باور د شخصيت جوړونې يو اصل دی، او پرته له باوره مو شخصيت منفي ثابتيږي. که تاسې يو وړ شخص ياست؛ لامل يې دا دی چې باور مو له لاسه نه دی ورکړی.

پنځم: رښتيني خلک درناوی کوي

صادقه خلک تل خوشبينه وي او په هغو فعاليتونو ډېره خوښې څرګندوي چې د ټولنې ګټې پکې نغښتې وي. دوی د هغو وګړو قدردانی کوي چې فکر يې ملي او احساس يې پياوړی وي.

شپږم: رښتيني خلک مهربانه وي

رښتيني خلک چې کله مقام ته ورسېږي، نو حق په حقدار سپاري او تل مهربانه فکر لري.

اووم: رښتيني خلک حقايق نه ځنډوي

صادقه خلک خپل نظر بې پرې څرګندوي او په دې ډېر ټينګار کوي چې د اصلاح لپاره يې رغنده ګامونه واخيستل شي.

اتم: رښتيني خلک راز ساتونکي وي

صادقه خلک راز په راز کې ساتي او هېڅکله به دوی په آسانه رازونه افشاء نه کړئ.

نهم: رښتيني خلک په زړه صفا وي

صادقه خلک که څه هم ځيني وخت په خوله (ژبه) ډېر جدي چلند نه کار اخلي، خو بيا په زړه کې هېڅ نه ساتي؛ دا ځکه د دوی اراده او نيت سپېڅلی وي. (ژباړن: حضرت عثمان نوري)

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سړک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۵۲۶۳۷۷۳ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا:دگردیزښار، مرکزی چوک ، دنی نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور شاته، خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: شهر زرنج، کوچه‌ی افغانستان بانک، جنب ریاست زراعت، دفتر جمعیت اصلاح: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

سرمقاله

دا جګړه زمونږه نه ده

یوازې قرباني یې مونږه یو

په تېرو درې اونیو کې یو ځل بیا ډېرې بې‌ګناه افغانان د مرګ میلمانه شول او ډېرې کورنۍ د غم پر ټغر کېناستلې، چې نه دا لومړی ځل دی او نه به هم وروستی وي.

په تېرو ۱٦ کلونو کې چې دلته کومه لوبه د امریکا په مشرۍ روانه ده، ټول زیان او تاوان یې افغانان ګالي او هره ورځ دا جګړه له افغانانو قرباني اخلي.

په دې کې شک نه شته چې امریکا دلته خپلې موخې او ستراتېژیک پلانونه لري او د هغو د ترلاسه کولو لپاره په افغانستان کې او په ټوله کې د سیمې په کچه ناامنۍ ته لمنه وهي، خو بلخوا داهم روښانه ده چې په جګړه کې ښکیل خواوې د امریکا او ګاونډیانو پرځای خپل افغانان وژني او خپل هېواد ورانوي، چې دا هم د امریکا د پلان یوه برخه ده.

که تېرو ۱٦ کلونو ته وکتل شي، نو په ټولیز ډول امریکا ډېر لږ تاوان ګاللی دی او که وویل شي چې د ګټې په پرتله یې زیان ډېر لږ او هېڅ دی، نو غلطه به نه وي، خو بلخوا افغانان په دې جګړه کې داسې لولپه شول چې هېڅ داسې کور به نه وي پاتې چې په دې جګړه کې نه وي ویرجن شوی او یو څه یې له لاسه نه وي ورکړي.

جګړه یوازې په ټوپک او بمونو خلک نه وژني، بلکې له ځانه سره نورې ناخوالې هم لري چې د خلکو ژوند او هرڅه ګواښوي، که له یو لوري دې جګړې مونږ ټولې نړۍ او ګاونډیانو ته په هرڅه کې اړ کړي یو، له بل لوري د هېواد په دننه کې هرڅه ګډوډ کړي دي، که له یو لوري د په بمونو او بمباریو وژل کېږو، بل پلو په ښارونو او کلیو کې داسې ناامني ده چې په رڼا ورځ خلک او کورونه لوټل کېږي او په ځانګړي ډول د کابل ښار په زړه کې په رڼا ورځ شوکې کېږي او امنیتي ارګانونه یې مخه نه شي نیولی او یا هم فساد دې ته اړ کړي دي چې دوی هم د دې لوبې یوه برخه وګرځي.

تعلیمي نظام مو په واټنونو له نړۍ‌وال معیار نه وروسته پاتې دی، په ښوونځیو کې هم د زورواکۍ او اخطارونو نظام برلاسی دی، همدا راز په روغتیایي برخه کې لاهم د پردیو هېوادونو روغتونونو ته ورځو او دا هرڅه د دې کرغېړنې جګړې پایلې دي چې امریکا او نورو پر مونږ را تپلې ده او لا یې هم اوږدول غواړي.

که په سره سینه فکر وکړو، نو دا به روښانه شي چې روانه جګړه نه د افغانانو جګړه ده او نه هم د افغانانو او د دې هېواد ګټې پکې نغښتې دي، بلکې دا یوه سیمه‌ییزه او نړۍ‌واله جګړه ده چې د نورو د ګټو او ستراتېژیکو موخو لپاره افغانان پکې قرباني ورکوي. امریکا په افغانستان کې خپل پایښت په جګړه کې وینې او ګاونډي هېوادونه خپلې ګټې د افغانانو په جګړه کې لټوي او مونږ د سولې لپاره د افغانانو پرځای د ګاونډیو هېوادونو درویزه کوو.

نو راځئ! چې نور له دې افغان وژنو تېر شو، هغه کار چې وروسته به ورته اړشو، اوس یې وکړو او د سولې لپاره لاسونه سره یو کړو، په یوه غږ او یوه آواز پردی دسیسې شنډې کړو او امریکا، پاکستان او نورو هېوادونو ته د دې چانس ورنه‌کړو چې له دې وروسته هم افغان پر افغان ووژني او دا هېواد نور هم وران کړي.

نور دا هېواد او خلک سولې ته اړتیا لري، په سوله کې هره ښېګڼه پیاوړې کېږي، او هره بدي پکې له منځه ځي او تر هغو چې سوله را نه‌شي، نه به بهرنیان له دې ځایه ورک شي او نه به هم زموږ وران او یجار حالت بدلون و مومي.

هو! نه دا جګړه زمونږ جګړه ده او نه هم په دې جګړه کې د افغانانو ګټې خوندي دي، بلکې دا جګړه د پردیو جګړه ده چې زمونږ په هېواد او هېوادوالو را تپل شوې ده او قرباني یې زموږ خلک او هېواد ورکوي.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

د سیمې جیو-پولیټیک بدلونونه او افغانستان

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییز څېړنو مرکز

له تېرو څو کلونو راهیسې د سیمې جیوپولیټیک وضعیت د بدلون په حال کې دی او د سړې جګړې د دوران په څېر، د سیمې هېوادونه یو ځل بیا په دوو بلاکونو وېشل کېږي. له همدې کبله زموږ په سیمه کې د نړۍ د سترو قدرتونو ترمنځ سړه جګړه او سیالي روانه ده.

افغانستان له دغه وضعیت څخه نېغ په نېغه اغېزمن دی، ځکه له یوې خوا امریکا، چې د دغې نوې سړې جګړې او سیالیو یو مهم لوبغاړی دی، عملا په افغانستان کې حضور لري او له بلې خوا اوس افغانستان د خپل جیوپولیټیک موقعیت له کبله د زبرځواکونو د سیالیو په ډګر بدل شوی دی.

دا چې د سیمې جیوپولیټیک وضعیت په کوم لوري روان دی، په دغه وضعیت کې د افغانستان دریځ څه دی او افغانستان ته په اوسني وخت کې څه کول په کار دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته مو ځواب کړې دي.

د سیمې جیوپولیټیک وضعیت

چین او روسیه هغه هېوادونه دي، چې په ۲۰۰۱ کال کې یې په افغانستان کې د امریکا او ناټو له پوځي حضور څخه ملاتړ وکړ؛ خو روسیه اوسمهال په سیمه کې د امریکا حضور ته د شک په سترګه ګوري او ترمنځ یې اړیکې د ۲۰۰۱-۲۰۰۹ کلونو په پرتله ډېرې خرابې دي. دواړه هېوادونه په سوریه، یوکراین او اوس په افغانستان کې د یو بل پرضد په یوه نااعلان شوې سړه جګړه کې ښکېل دي. له بله پلوه، امریکا د چین په سویل سمندرګي کې د بیجینګ د دریځ مخالف نظر لري او په سیمه کې یې د چین له مخالفو هېوادونو سوېلي اسیا، جاپان، ویتنام، تایوان او نورو سره ژورې اړیکې دي. چین، چې اوسمهال یو اقتصادي او نظامي ځواک دی، په افغانستان کې له بې‌ثباتۍ او ناامنۍ څخه وېره لري او دا وېره یې تر ډېره د سینکیانک ایالت ته د ناامنیو له لېږد او د خپلو سترو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو د پلي کېدو پرو وړاندې خنډونو سره تړاو لري. له همدې کبله غواړي د افغانستان په مسائلو کې ځان ښکېل وساتي.

په سیمه کې د داعش ډلې له راڅرګندېدو وروسته روسیه او ایران هغه هېوادونه وو، چې په افغانستان کې یې د امریکا په حضور نیوکې پیل کړې، دوی په سیمه کې د امریکا حضور نه یوازې دا چې د «ترهګرۍ» د ځپلو لپاره نه بولي، بلکې دلته د هغوی پوځي حضور د سیمې د بې‌ثباتۍ لامل بولي.

په بل اړخ کې، د امریکا ولسمشر بارک اوباما په ۲۰۱۴ کال کې د آسیا د بیا متوازن کولو تګلاره اعلان کړه، چې یو شمېر چینایان دغه تګلاره د چین حصار ګڼي؛ ځکه دوی د آسیا بیا متوازن کول د چین په مقابل کې د هند، جاپان او یو شمېر نورو هېوادونو راپورته کول ګڼي. د امریکا او هند ترمنځ د همدغې نوې تګلارې په رڼا کې سوداګریزې او دفاعي اړیکې هم ورځ تر بلې پیاوړې کېږي.

په وروستیو کلونو کې د امریکا او هند نژدې کېدل او په تېره بیا په تېر کال کې د امریکا او هند نظامي-لوجستیکي هوکړه‌لیک او دغه هېواد ته د امریکایي چارواکو ګڼ سفرونه داسې مهال وو، چې په سیمه کې د چین-هند او هند-پاکستان ترمنځ اړیکې د خرابېدو په لور روانې وې.

دا هر څه داسې مهال دي، چې امریکا تېره اوونۍ په خپله دفاعي ستراتیژۍ کې روښانه کړه، چې له دې وروسته به د دوی تمرکز له ترهګرۍ سره پر جګړې نه، بلکې له سترو

قدرتونو سره په مبارزې وي.

له پاکستان سره د امریکا د اړیکو ترینګلتیا هم په افغانستان کې د امنیتي بې‌ثباتۍ او د افغان دولت وسله‌والو مخالفینو ته د پټنځایونو له کبله نه ده، بلکې د همدغه جیوپولیټیک وضعیت له کبله ده، چې پاکستان د چین ستراتېژیک ملګری دی او له روسیې سره هم ورځ تر بلې خپلې اړیکې پراخوي.

د افغانستان دریځ

که د سیمې جیوپولیټیک وضعیت ته ځیر شو، نو دا مهال سیمه د امریکا-هند-افغانستان او په بل اړخ کې د روسیې-چین-پاکستان پر دوو بلاکونو وېشل شوې ده؛ خو چین په دې منځ کې هم له افغانستان سره دوستانه اړیکې لري او هم له امریکا سره د اړیکو د ترینګلتیا د مخنیوي هڅه کوي؛ ځکه د چین تګلاره تر ډېره اقتصاد-محوره ده. همدا لامل دی، چې چین په تېرو میاشتو کې د امریکا په پلوۍ د شمالي کوریا پر وړاندې ګامونه پورته کړل.

کله چې په ۲۰۰۹م کال کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي او امریکا ترمنځ اړیکې خرابې شوې، افغانستان چین او روسیې ته نږدې شو؛ خو د ملي یووالي حکومت له راتګ سره د امریکا او افغانستان اړیکې بېرته مخ په ښه کېدو شوې او د ملي یووالي حکومت په لومړیو ۲۴ ساعتونو کې د کابل او واشنګټن ترمنځ امنیتي تړون لاسلیک کړ.

له روسیې سره د افغانستان اړیکې وروسته له هغه خورا ترینګلې شوې، چې روسیې په افغانستان کې د داعش ډلې له راپورته کېدو څخه وېره څرګنده کړه او په افغانستان کې یې د دغې ډلې د نفوذ له پراخېدو سره د مېشتو بهرنیو ځواکونو د مرستې ادعا وکړه.

همدا لامل و، چې روسانو د داعش ډلې د ګواښ د مخنیوي په پلمه له طالبانو سره د اړیکو جوړولو په اړه څو ځله څرګندونې هم وکړې. د افغانستان ولسمشر بیا څو میاشتې وړاندې په پکتیکا کې له یوې خونړۍ چاودنې وروسته یوې غونډې ته له طالبانو سره د روسیې د پوځي مرستو خبره وکړه او له دې سره د افغانستان او روسیې اړیکې نورې هم ترینګلې شوې.

په بل اړخ کې د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته کابل د اسلام‌آباد د همکارۍ په تمه داسې ګامونه واخیستل، چې له کبله یې له هند سره تر څو میاشتو پورې اړیکې سړې شوې؛ خو له پاکستان سره دا تودې اړیکې په کال کې د ننه بېرته سړې شوې او دواړه لوري پر یو بل له تورونو لګولو او لفظي جګړو څخه آن تر نظامي شخړو ورسېدل. له همدې کبله د افغانستان او پاکستان اړیکې له تېرو دوو کلونو راهیسې د بل هر وخت په پرتله خرابې دي او اوس د پاکستان پر وړاندې د امریکا نوې تګلاره او فشارونه یو مثبت بدلون ګڼي. په ورته وخت کې له هند سره د کابل اړیکې ورځ تر بلې پراخېږي.

پر دې سربېره کابل د تهران او ریاض ترمنځ هم د خپلو اړیکو تعادل ونه شو ساتلی. د ملي یووالي حکومت په یمن کې د ایران ملاتړ لرونکو شیعه حوثي وسله‌والو پرضد، د سعودي عربستان په مشرۍ پوځي ایتلاف څخه ملاتړ وکړ.

له همدې کبله، تېرو څو کلونو ته په کتلو سره، افغانستان د سیمې او نړۍ په کچه په جیوپولیټیکو بدلونونو کې او له بېلابېلو هېوادونو سره په اړیکو کې توازن او خپل د ناپېیلتوب عنعنوي سیاست نه دی ساتلی او نه هم تراوسه توانېدلی چې دغه سیمه‌ییزې سیالۍ د ځان په ګټه مدیریت کړي.

افغانستان ته څه کول په‌کار دي؟

د افغانستان او سوېلي اسیا په اړه د امریکا نوې پوځي تګلاره او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو د مودې غځول، که څه هم افغان حکومت د خپل ځان لپاره بریا ګڼي؛ خو په دې تګلاره کې پر جګړې ټینګار او د سولې له پامه غورځول هغه څه دي، چې له کبله یې له حکومته د باندې پر دغې تګلارې نیوکې کېږي او دا د افغان جګړې د اوږدولو په معنا بلل کیږي.

سره له دې چې افغانستان دا مهال د امریکا مرستو ته اړ دی او داسې انګېري چې د امریکا له نظامي او مالي مرستو پرته یې بقا ناشونې ده؛ خو په ورته وخت کې د دغو مرستو لوړه بیه پرې کوي او ورو ورو د زبرځواکونو د نیابتي جګړو په ډګر بدلېږي.

د افغانستان بهرنی سیاست په ځانګړې توګه د امریکا، چین او روسیې په برخه کې متوازن نه دی او په داسې حال کې چې ځینې تحلیلونه ښیي، چې امریکا په سیمه کې جګړه غواړي او دا وضعیت د سیمې د هېوادونو په تېره بیا چین او روسیې اندېښنې له ځان سره لري، ښایي دا ستونزه نوره هم اوږده او ژوره شي.

افغانستان ته په‌کار ده، چې د خپل متوازن بهرني سیاست له لارې د سیمه‌ییزو او نړیوالو سیالیو له منفي اغېزو ځان وژغوري؛ ځکه نو په اوسني وخت کې افغانستان ته پکار ده، چې دا وضعیت له خپلو ګټو سره سم مدیریت کړي او یوه روښانه او متوازنه بهرنۍ تګلاره غوره کړي.

اندیشه و تفکر ترامپ؟

کریس باتن- رئیس دانشگاه اکسفورد

از سفر دونالد ترامپ رئیس جمهور امریکا به چین، هنوز مدتی نگذشته بود که رسانه های مربوط به راستگراه های افراطی مانند بریتبارت نیوز، فوکس نیوز و امثال آن، به صدا درآمده و به ترامپ پیشنهاد کردند که باید به رئیس جمهور چین (چی جین بینگ) اقتداء کند، علی الرغم این که طبیعت طغیانگر لینینی که بر وضعیت چین مسلط می باشد. در اجتماع سرتاسری نهم حزب کمونیست چین که اخیراً منعقد گردید، چی به حیث قاید اعلای این حزب تعیین گردید. و اینکه تفکر چی جین در میثاق حزب کمونیست چینی جابجا گردید، به این معناست که اعضای این حزب، چی جین را در کنار دو رهبر بزرگ و تاریخی جمهوریت مردم چین قرار دادند که همانا مائوتسی دونگ و دینگ شاوپینگ اند و اینها دو زعیم چینی اند که ایدلوژی آنها به نام خود شان یاد می گردد.

سهمگیری های فکری چی در ساختار جدید مارکسیزم لینینیزم، موقف او را بیشتر تقویت می بخشد؛ زیرا در طرز تفکر چی آنقدر روی ماکسیزم ترکیز نشه است، بلک بیشتر روی افکار و نظریات لینینیزم متمرکز می باشد و بیشتر می خواهد که مخلوطی از فرمانروایی مرکزی و ملی گرایی را ارائه نماید. تا در جهت تحکیم جایگاه چی به حیث قوی ترین قاید کشور بعد از مائوو عمل نماید و به او این امکان را بدهد که، بنابر قول مشهور ترامپ، «چین را بار دیگر بزرگ و عظیم» بگرداند.

اما ترامپ فقط می تواند که با چی، حسادت بورزد و هیچ کاری غیر ازین نخواهد توانست. زیرا تغییر آوردن در دستور حزب کمونیست چین کار کاملاً ساده و آسان است و هر شخصی که به خود جرئت داده و بخواهد که با این تعدیل پیشنهادی توافق نکند، باید قبل از تصمیم خود، سری به مراکز پولیس حزبی برای مقابله با فساد بزند تا حقیقت موضوع برایش آشکار گردد؛ اما تغییر آوردن در قانون اساسی امریکا به این سادگی نمی باشد.

و اگر به امکانات به وجود آمدن این تغییر در قانون اساسی امریکا نگاه کنیم، چنانچه در ۲۷ مناسبت قبل ازین صورت گرفت، تا فکر ترامپ را تضمین نموده و به عموم مردم این امید را الهام نماید که «امریکا اولاً»، در آن صورت فکر دونالد ترامپ خیلی بسیط و سهل الفهم بوده و خواستار زحمت کشی و تعمق فکری زیادی نمی باشد. برای این که فکر ترامپ «ترامپیزم» به صورت درست بدانیم باید:

اول، با کشور هایی که یکی از آسمان خراش های ترامپ را در خود جای داده است، و یا ممکن است که در آینده چنین چیزی اتفاق بیافتد، و یا این که امتیاز تجارتی خانوادهٔ ترامپ در آن وجود داشته باشد، برخورد همراه با لطف داشته باش و به خصوص با کشور های از ترامپ با فرش نمودن قالین های سرخ استقبال کرده است و قالین زربافتی را گسترده است تا ترامپ روی آن بیاستد، باید با احتیاط تمام برخورد داشته باشی.

البته ازین که این کشور ها نظام دیمکراتیک داشته باشند و یا دکتاتوری، هیچ تشویشی به خود راه مده؛ زیرا ممکن است آن کشوری دوست بهتر برای دونالد ترامپ باشد که از سوی «شخصیت قاطع» اداره گردیده مخالفین و معارضین خود را به زندان بکشاند. اما نظام های دیموکراتیک خواستار قیادت ها و رهبرانی است که سؤال های زیادی را باید جواب بگویند و از موانع زیادی عبور نموده و با مقاومت های شدیدی مواجه گردند. لذا این گونه کشور ها چندان به مذاق این طرز تفکر برابر نمی باشد

مبدأ دوم مفکورهٔ دونالد ترامپ اینست که همیشه در فکر مقابله با اخبار ناخوشایند در کشور می باشد و هر خبری که به مزاج این زعیم بزرگ برابر نیاید، آنرا خبر نادرست و ساختگی می خواند و واقعیت گرایی به نظر او

همانست که این زعیم بزرگ را در نظر دیگران بزرگ و با عظمت جلوه دهد.

این مبدأ از ما میخواهد که هر مفکوره را تا اندازهٔ بسیط و ساده گردانیم که بتوان از آن در کمتر از ۲۸۰ حرف در صفحهٔ تویتر تعبیر نمود و در اثنایی که کانال خبر پراگنی فوکس نیوز را تماشا می کنیم، آنرا بیان کنیم. این افکاری است که در مقابل خواسته ها و آروزهای پنهانی رأی دهندگان لبیک می گوید زیرا رسالت باز شناسی آنها باید «خون و زمین» باشد.

در پیش گرفتن روش خصمانه در برابر رئیس جمهوران سابقه نیز امر ضروری این مفکوره است؛ بنابرین باید بپذیریم که تمام سخنان و کار های بارک اوباما خطا بوده و ترامپ هیچ نیازی احساس نمی کند که اعتراف نماید که سلف او توانسته است اقتصاد امریکا را از چنگال های ورشکستگی نجات دهد. او می تواند که فضل و امتیاز تمام نتایج را به خود نسبت دهد که بزرگترین آن بلند رفتن نسبت کار و وظیفه و بلند رفتن نرخ اصول بانکی می باشد.

این فکر ترامپ دو دستآورد و کامیابی بزرگ بارک اوباما را مورد هدف قرار می دهد که عبارت از قانون حمایت صحی و (اوباما کییر) و اتفاق اتومی با ایران در سال ۲۰۱۵ میلادی می باشد. و درین میان الغای برنامهٔ حمایت صحی بزرگتر از آن بود که ترامپ توقع داشت و اگر ترامپ می توانست بدیل را ایجاد نموده و جاگزین این برنامه سازد، خیلی بهتر از آن بود که فقراء و بیماران را در بدترین حالت ترک نماید.

اما در رابطه با اتفاق اتومی باید گفت که ترامپ قدمی فراتر از شیطان ثابت ساختن ایران برداشته و به صورت علنی اعلان نمود که این اتفاق را الغاء خواهد کرد؛ با وجود این که ایران به تمام بنود و شروط این اتفاق الترام کامل داشته است. بر اساس فکر ترامپ، حتی اگر این تصمیم او باعث بالا گرفتن اختلاف سنی و شیعه در شرق میانه گردد، هیچ اهمیتی ندارد.

همچنان مفکر ترامپیزم هیچ توجهی به این ندارد که نزدیک ترین هم پیمانان امریکا، که همانا اروپای دیموکرات است، درین تصمیم او بر ضد ایران با وی موافق نباشد؛ بلکه برعکس، پیشتیبانی اروپا از این اتفاق یکی از عوامل قوی الغای این اتفاق خواهد بود.

باوری که ترامپ در سر می پروراند، متضمین سه مبدأ اساسی می باشد که عبارت اند از: بلند رفتن میزان تجارت با کشور های دیگر و مفاد حاصله ازین طریق، تا اندازهٔ مهم است که حتی برایش مهم نیست بیان صادره در کنفرانس مطبوعاتی او در مورد صادرات امریکایی و افزایش آن، حقیقی باشد و به صورت فرضی تصور گردد. بلکه مهم اینست که این عقد های تجارتی با بزرگی تمام اعلان گردد و هر قدری که میلیارد های بیشتر در سخنانش تذکر یابد، به همان اندازه برایش مهم و بهتر خواهد بود.

دوم، دلایل و حقایق ملموس اساس و بنیاد سیاست ها به حساب نمی آید؛ یعنی مفکر ترامپیزم تمام این سرو صدا ها و پراگنده گویی هایی را که در مورد تغییر محیط زیست گفته می شود، نادیده می گیرد. پس بگذارید که طوفان ها شدیدی بوزد، و باران های مسلسل ببارد و سطح بحر ها بلند گردد، و ملوث شدن هواء مردم را به قتل برساند.

در عین وقت، لازم است که شدیداً انکار نمود که تمام این تغییر فضاء و محیط زیست رابطهٔ با گاز های گلخانه ای دارد که بوسیلهٔ انسان ایجاد می گردد. حتی اگر علماء دلایل محکمی را ارائه نموده و اینرا ثابت سازد، مفکر مکتب ترامپیزم فوراً آنرا خدعه و دسیسهٔ می خواند که به خاطر تضیعف امریکا طرح ریزی شده است. لذا امریکا به هیچ صورت تعیین مقدار استخراج سنگ ذغال را نمی پذیرد و حمایت از مصالح و صنعت نفط را در هر حالت واجب می داند.

و اخیراً باید کسانی را تصدیق کنی که مفکر ترامپیزم می خواهد آنرا تصدیق نمایی، حتی اگر ضرورت افتد باید نسبت به دستگاه استخباراتی امریکا، بالای ولادیمیر پوتین مرد استخباراتی روس و افسر ک جی بی سابق اعتماد بیشتر داشته باشی. و هر قدر که بازرس خاص، رابرت مولر و گروپ تحقیقاتی او بیشتر به شناخت حقایقی در مورد دخالت روسی در انتخابات امریکا سال ۲۰۱۶ نزدیک می گردد، بیشتر اصرار نمایی که پوتین معنای سخنی را که می گوید، خوب تر از دیگران می داند.

همین سخنان در مورد بریتانیا نیز کاملا قابل تطبیق است، زیرا با گذشت هر روز دلایل بیشتری بدست می آید و این حقیقت را واضح می سازد که اموال روسی و فعالیت های این کشور در وسایل ارتباط جمعی نقش اساسی و مهمی را در کامیاب شدن طرفداران جدایی از اتحاد اروپا «بریکست» در سال ۲۰۱۶ بازی نمود.

در فکر دونالد ترامپ، پوتین عبارت از یک پیامبر، قدیس و رهبر بزرگ است. او مانند ترامپ کسی است که به خاطر عظمت ملی خویش بر ضد قوت های شر که در تنوع فرهنگی و دیگر پذیری مجسم می شوند، درحال جنگ می باشد و مانند ترامپ می داند که دوستان او چه کسانی اند؟

برگردان: دار الترجمه اصلاح

ناگفته‌هایی

از انگیزه‌های جنایات و کشتار در کشور

عبدالوهاب هائد

انفجارها و حملات پیاپی به نقاط مختلف کابل و برخی ولایات، طی یکی دو هفته‌ی اخیر، واکنش‌ها و بگومگوهای تند و تیزی را از آدرس‌ها و افراد و اشخاص مختلف به همراه داشت. واکنش‌هایی که بیشتر سطحی محور و احساساتی و حتا بعضاً عقده‌مندانه بود؛ عده‌ای این اشکال را به ضعف ارگان‌های امنیتی نسبت می‌دهند، توده‌ای آن را برخاسته از نیت زشت و اعمال ننگین و شرم آور گروهی از مردم و رسانه‌ها و ... می‌دانند، طیفی هم ریشه‌ی این دست فجایع را در بیرون از مرزهای کشور و آن هم در زیر پای استخبارات منطقه، به ویژه کشور همسایه (پاکستان) می‌بینند و جمعی مدیران نا کارامد و کم ظرفیت نهادهای امنیتی و نظامی را از عوامل عمده‌ی این دست حملات دانسته و ضرب الاجل برای استعفای آنان پیش می‌کنند و جماعت بزرگی هم، باورمندند که همه‌ی این اشکال، ناشی از عدم تعهد، اختلافات، جار و جنجال‌های فرصت طلبانه‌ی سیاسی و ناتوانی مدیریتی هر دو مدیر سیاست در رأس نظام در افغانستان است.

اما تا حال کسی از روی انصاف و به دور از کین و عقده، نگاهی به گذشته‌ی چندین ساله‌ی این کش و گیرها و چگونه‌گی سامانه‌ی نظام آسیب پذیر و به گروگان رفته و تناب‌های به عقب بسته‌ی آن نه انداخته است؛ اینکه عوامل اصلی این همه بی سر و سامانی و درد و مصیبت در کجاست و چه دست‌های در پشت پرده این همه جفا و جنایت را در بهای منافع و خواسته‌های شوم خویش برین ملت بیچاره تحمیل و مدیریت کرده است، خیلی کمتر و به ندرت به آن تماس گرفته اند.

ما همه می‌دانیم که کشور ما از سیاست تا اقتصاد و فرهنگ و امنیت همه و همه در قبضه و تصرف غول و حشت و جنایتی بنام آمریکا قرار دارد و حتا اذهان و اندیشه‌های سیاست مداران و کارگزاران نظامی-سیاسی ما را چنان تحت مدیریت گرفته اند، که برای حضور شان سوگندنامه‌های ناچاری توسط آنان امضا کرده اند و با تطمیع و تخدیر چنان خویشتن را بر ایشان حامی و پشتیبان جلوه داده اند، که انگار بدون حضور نیروهای شیطانی و ابلیس مئآب آمریکایی همه چیز درین کشور به هم می‌ریزد و صفحه‌ی جدیدی از انسان کشی و انسان خوری درین خاک‌دان گشوده می‌شود؛ هرگونه که دل شان خواست درین دیار سیاست می‌کنند و هر طوری که لازم ببینند، بر بالای گرده‌های این ملت مستقیم و غیر مستقیم پیل خشونت می‌رانند. به تیره‌ها و طوایف عقده به دل و کینه توز تحت هر نام و عنوانی جرأت و جسارت می‌بخشند و به تبر هر بهانه گیر و آدم خواری با حضور نا میمون شان دسته می‌دهند.

کارشناسان و سیاست مداران ما بی آنکه مکثی بر این انگیزه‌ی ننگین و مردار داشته باشند و برای رهایی این کشور و ملت از چنگال این هیولای خون وحشت راه حل بجویند، پیشاپیش سلسله‌ی تخدیر اینان به تبصره‌های نظام برانداز و عقده برانگیز متوسل می‌شوند و مردم را از حقیقت فتنه و شرارت غافل نگه می‌دارند. حالا که همه‌ی درد و مصایب جانکاه جاری درین سرزمین، چه از سوی گروه‌های جبر مشرب و منتسبان نا مقبول به دامان پاک دین زیر عنوان مخالفان مسلح و داعش، و چه بصورت مستقیم و در پی بمباران و به رگبار بستن خود شان، ریشه در سایه‌ی شوم و ناپاک اینان دارد.

علاوه برین، در تازه ترین مورد ترمپ با اظهارات تحریک آمیزش یک بار دیگر به عنوان مدیر اصلی سیاست در افغانستان گفت: دیگر دروازه‌های صلح با طالبان را بسته است و با آنان از در جنگ پیش خواهد رفت که در تبانی به این گفته‌ی او، متصدیان افغان نیز گفتند: صلح را در میادین جنگ دنبال خواهند کرد.

این اظهارات از سوی ترمپ درحالی صورت می‌گیرد، که تا حال هیچ نوع فشاری در حل قضایای این ملک کار ساز نبوده و درد این کشور، جز با داروی گفتگو و مصالحه درمان نمی‌شود.

اما من برین باورم که: باتوجه به این همه غفلت و تجاهل همه این جفا و نابسامانی‌ها ناشی از دو انگیزه‌ی است که همه‌ی ما بی آنکه به آن توجهی داشته باشیم، در ورای آن مصروفیم. یکی ازین دو انگیزه حضور نظامی طمع کارانه و مبتنی بر رقابت سیاسی کلان و با دورنمای نحس و ناپاک آمریکا در کشور است و دیگری هم چاکر مشربیی تعدادی از افغان‌های تخدیر شده و یدک کشان سیاست ویرانگر و خدمت مجراکنان به بیگانه‌ها که این دو انگیزه برای بهبود وضعیت نابسامان کشور، نیاز به یک چرخش ۱۸۰ درجه‌ای دارند تا تغییر لازم بر سرنوشت ملت و ملک وارد شود.

بنابرین، اگر ده‌ها وزیر دفاع و داخله و امنیت استعفا دهد؛

اگر چندین رئیس جمهور و صدر اعظم تغییر و تبدیل شود؛

اگر ملیاردها دالر دیگر هم به مصرف برسد؛

اگر صدها هزار سرباز در راه استقرار امنیت قربانی شود؛

اگر هزاران بار طعن و لعن و نفرین به آدرس کارگزاران سیاست و نظام افغانی ما فرستاده شود؛

تا آمریکا با سیاست منفعت جویانه‌اش درین سرزمین حکم می‌راند؛

تا بودجه‌ی سیاسی-نظامی ما توسط آمریکا و کشورهای استعمارگر دیگر تمویل می‌شود؛

تا نظام و نظام داران در کشور ما ملوث و آلوده اند؛

تا رشوت و ظلم و زور و سرمایه اینجا تعیین کننده است؛

تا مدیریت سیاست در کشور ما را اجنبی‌ها به عهده دارند؛

تا قومیت و زبان و سمت و مذهب و نژاد حرف اول را می‌زند؛

تا مدیران سیاست ما با فشار و اجازه‌ی خارجی‌ها به قدرت برسند؛

تا کسانی درین کشور امنیت را از آمریکایی‌ها و نیروهای اجنبی می‌خواهند.

تا فرزندان این میهن ابزار دست بیگانه اند و باتیوری‌های آنان کشور و مردم شان را به خاک و خون می‌کشند؛

تا اسلام گروگان دست چند بی خبر از دین است و درین سرزمین تعریف وارونه می شود؛

تا نیت و نگرش سیاسی ما ماده محور و غیر اسلامی باشد و صلح جویی و آشتی طلبی من بر مبنای رضایت غیر صورت بگیرد؛

«همین خرک خواهد بود و همین درک»

باز هم کشور ما میدان مسابقه‌ی سیاسی و استخباراتی اجانب خواهد بود.

هر روز قربانی خواهیم داد

هر روز به غم خواهیم نشست

هر روز بیشتر از روز دیگر فقر گریبان گیر مان خواهد بود.

نه از امنیت و رفاه چیزی خواهیم دید؛

نه از آمار قربانیان و کشته‌های همه روزه کاسته خواهد شد؛

نه ظلم و وحشت و ترور درین سرزمین پایان خواهد یافت؛

و نه هم ما را امیدی به فردای بهتری درین خاک دان خواهد بود.

زیرا الله گفته است:

إِنَّ اللَّهَ لا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ [الرعد: ۱۱]

خداوند سرنوشت هیچ قوم (و ملّتی) را تغییر نمی‌دهد، تا در نفس‌های شان تغییر وارد نکنند.

مکث کوتاه در دوراهی استبداد و دموکراسی

امین الله حقانی

اجرای حکم بر دیگران یا به اصطلاح خودمان «کلانی واربابی» از غرایز نفسانی و طبیعت مطلقه انسانی بوده که طول و عرض تاریخ بشریت، حاصلات زشت آن را بعنوان ذخیره ویروس‌های میراثی در کله‌ی خود ثبت کرده است.

به طور «مشت نمونه خروار» فرعون مصر برای ساخت هرم بزرگش ۲۵ هزار انسان را به مدت ۲۰ سال مجبور به کارهای طاقت‌فرسا نمود تا حیات جاوید یابد.

یکی از اهرام مصر از دوملیون خشت تراش شده از سنگ آهک وگرانیت ساخته شده که وزن هرکدام آن نزدیک به سه تن میرسد و دو خشتی که در بالای اطاق اصلی مقبره قرار دارد، تقریبن (۴۰۰ تن) وزن دارند.

امپراطور خاندان حکومتی «کین» در چین، در اولین ساعت نشست بر تخت شاهی دستور ساخت مقبره بزرگی با تمام امکانات رهایشی وغیر قابل وصف توسط بردگان (انسان‌ها) در زیر زمین را صادر نمود و مردم چین را مجبور نمود که سقف آنرا با روی‌هم قرار دادن مقادیر زیادی از خاک به کوهی بزرگی تبدیل کنند، که شکوه وجلال شاه را تا ابد نگه دارد، سیاحان امروزی هرگز باور نمی‌کنند که در زیر ده‌ها کوه مصنوعی صدها زن وبرده برای خدمت شاهان زنده بگور شده اند.

برای همیش همین استبداد بوده که دعوت پیامبران را به بن‌بست مواجه کرده است.

می گویند: برای اولین بار مردم یونان توانستند بدیلی برای استبداد بسازند که بعدها اسمش را دموکراسی گذاشتند، اما حقیقت امر این است که رسالت عموم پیامبران مبنی بر آزادی از بردگی ورهایی از یوغ استبداد و شاهی و تاسیس نظام شورایی بود، چیزی که علمبرداران شاهی نمیخواستند آن را ازدست بدهند.

اصول وروش‌های که در دموکراسی ازآن استفاده بنیادی میشود، نمونه‌های زیادی در نظام پیامبری دارند، برای درک اصل مطلب اگر به ساختارهای کنونی نظامهای حکومتداری فعلی -شاهی ودمکراسی- توجه کنیم، نظام شاهی، نظامی است که تمام پیامبران علیهم السلام بر علیه آن مبارزه کرده اند و این نظام به انداز یک پشت ناخن هم در اسلام جای زیستن ندارد. اما در نقطه مقابل می‌بینیم دموکراسی، ساخته مغز یونانی‌ها نه، بلکه کاپی و نسخه برداری از محتویات عمومی نظامی است که پیامبران آورده اند -البته باتفاوت‌ها وفرق‌ها-.

بعنوان مثال، انتخابات را از اصل و خاصه‌ی دموکراسی می‌شمارند، اما فراموش کرده اند که رسول الله صلی الله علیه وسلم برای خود جانشین انتخاب نکرده و آنرا به شورای مسلمین واگذار کرده است.

خلیفه دوم اسلام رسما شش نفر را برای احراز پست خلافت کاندید کرد و بلاخره عبدالرحمن بن عوف بعد از جمع آرای عموم مردم با درنظرداشت اکثریت آراء دست عثمان رضي الله عنه را بالاکرد.

یکی از نیمه شباهت‌های دموکراسی با نظام اسلامی این است که در این نظام افراد حق انتقاد را بر حاکمان داشته می‌باشند، چنانچه عمر فاروق رضی الله عنه سخن پیره زن را در برابر خود پذیرفت وغیره مثال‌های دیگر به همین سبب است که امروز کسانیکه خود در سایه دموکراسی زیست دارند، آزادانه آن را نکوهش نموده ورد و بد هم می‌گویند، چیزی که آنرا در نظام شاهی با میکروسوپ خیال هم نخواهی یافت.

اما ناگفته نباید گذاشت که سخنان بالا در مورد اصل و شیوه‌های مقایسوی میان دموکراسی و شاهی بوده و گرنه دموکراسی امروزی بخصوص در کشورهای استعماری رخ دیگری از استبداد است و بس.

ناگفته نباید گذاشت که سخنان بالا در مورد اصل وشیوه‌های مقایسوی میان دموکراسی و شاهی بوده و گرنه دموکراسی امروزی بخصوص در کشورهای استعماری رخ دیگری از استبداد است و بس.

habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

درد نامه

من به چشم خویشتن دیدم که کابل خون گریست
چشم من تا صبحدم با چشم کابل خون گریست
حال کابل خسته و زار و پریشان بود شب
چشم بلخ و قندهار و چشم زابل خون گریست
مادران کابوس های روز وحشت دیده اند
کوه بابا ناله میزد قلب کابل خون گریست
پکتیا و بامیان در ماتم اند و شهر عزنه تا سحر
همصدا با هیرمند و شهر کابل خون گریست
از هرات و میمنه تا شهر ایبک خون و درد
کندز زخمی به حال خویش و کابل خون گریست
خون و آتش در بساط لوگر و وردک فتاد
شب بدخشان و فراه با حال کابل خون گریست
می شنیدم ضجه های غور و بادغیس و تخار
پنجشیر تا شهر بغلان و سرپل خون گریست
نیمروز و پکتیکا تا شهر ننگرهار سوخت
چشم لغمان و کنرها قلب پروان خون گریست
مادری از شهر جوز جان تا ارزگان آه و درد
نورچشمان نورستان رفت از بس خون گریست
خوست و کاپیسا به حال مردم کابل زمین
شهر دایکندی سیاه پوشید و کابل خون گریست
من به چشم خویشتن دیدم که کابل خون گریست
قلب میهن خون گریست و خون گریست و خون گریست

راه درك و فهم حقیقت

نیاموخته‌ایم که فهم حقیقت از طریق دیالوگ و وجود جامعه مدنی شکل می‌گیرد و در ذهن جزیره‌ای یک یا چند فرد نیست .
بنابراین ضروری است که،
یکدیگر را تحمل کنیم،
برای یکدیگر جا بازکنیم،
تفاوت های یکدیگر را به رسمیت بشناسیم،
و از خودخواهی‌های فکری بپرهیزیم...

ښه او بد عادتونه!

درې عادتونه د انسان قدر او منزلت ښکته راوړي
حسد کول
چغلي کول (دیو خبره بل ته وړل)
ناپوهي
درې عادتونه چې د انسان مقام او منزلت اوچتوي او د خلکو په منځ کې یې محبوب گرځوي
قرض ورکول
عاجزي
بخښنه کول

معلوماتي

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

د بریالیو کسانو ۲۰ ځانګړنې

۱. درواغ نه وايي.
۲. غرور نه لري.
۳. صمیمي وي.
٤. د درناوي او منندویی حس لري.
٥. د هېرولو چل ورځي.
٦. د نورو بریاوو ته ارزښت ورکوي.
۷. د نورو کسانو پرمختګ غواړي.
۸. خپلې نیمګړتیاوې مني.
۹. هره ورځ مطالعه کوي.
۱۰. یادښتونه ساتي.
۱۱. د (څه وکړم؟) لړ ساتي.
۱۲. د نظریو په اړه خبرې کوي.
۱۳. مالومات شریکوي.
١٤. خوښي څرګندوي.
۱۵. موخې ټاکي او د تر لاسه کولو لپاره یې پلان جوړوي.
١٦. توپیرونو ته غېږ خلاصوي.
۱۷. دوامداره زده کړه کوي.
۱۸. د بدلون لپاره لرلید لري.
۱۹. هیلې ژوندی ساتي.
۲۰. هوډ او حوصله لري.

با عملت دعوت کن!

سعی کن کسی که تو را می بیند، آرزو کند مثل تو باشد

از ایمان سخن نگو!

بگذار از نوری که بر چهره داری، آن را احساس کند.

از عقیده برایش نگو!

بگذار با پایبندی تو آن را بپذیرد.

از عبادت برایش نگو!

بگذار آن را جلوی چشمش ببیند.

از اخلاق برایش نگو!

بگذار آن را از طریق مشاهده ی تو بپذیرد.

از تعهد برایش نگو!

بگذار با دیدن تو، از حقیقت آن لذت ببرد.

«بگذار مردم با اعمال تو خوب بودن را بشناسند نه با گفتارت»

رښتینی توکل!

له عمر رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل یې: که چېرې تاسې پر الله تعالی رښتینی او حق توکل کولی؛ نو تاسو ته به هغه شان روزي درکول کیدله لکه څنګه چې مرغانو ته ورکول کېږي، چې سهار وږي له خپلې ځالې څخه الوزي او ماښام بیرته ماړه ورته را ګرځي. "رواه ترمذي"

په ژوندانه کې د څېړنې او پلټنې ارزښت

تلخیص او ټولونه: محمد خالد ملکزی

په ټولنیز ژوند کې عاقل انسان هغه چا ته نه ویل کېږي چې هره اورېدونکي خبره سمه او صحیح وګڼي او په فوري توګه سره د هغې د عملي کولو لپاره اقدام وکړي ــ بلکې ځیرکه او هوښیار هماغه چاته ویل کېږي چې د یو مهم خبر د اورېدلو ورسته له خپل ځان څخه پوښتنه وکړي چې: ددې خبر راوړونکی څوک دی او څه ډول شخصیت لري؟ آیا ددې خبر منبع او سرچینه زما لپاره د اعتماد وړ ده او کنه؟ که چېرې د اعتماد وړ نه وي؛ نو سمدلاسه په خپله له تثبُّت، Research (تحقیق) او پلټنې څخه باید کار واخلي، تر څو د هغه په اړه په خپل ذهن کې مهمو پوښتنو ته دقیق ځواب ځانته معلوم کړي، د مهمو پېښو په تړاو د هغه څېړنې باید تر هغه جریان ولري تر څو سم له ناسمو، حق له باطل او سلامت له ملامت څخه جلا کړي او په دې توګه سره د حق تلفیو مخه باید ونیسي.

تحقیق او څېړنه ولې دومره ارزښت لري؟

د فتنو او د تشویشونو په دې زمانه کې شاید هېڅوک له دې څخه انکار ونشي کړلی چې په دې عصر کې د مهمو مسائلو په اړه تحقیق او تدقیق تر بل هر وخت خورا ارزښتمن دی، په ځانګړې توګه په اوسنیو شرائطو کې چې زمونږ افغانان وروڼه او خوېندې په بمباریو او اورونو کې ښکېل شویدي؛ نو د ټولو هغو مهمو مسائلو په اړه کوم چې زمونږ د عقیدې او دین پورې اړه ولري او یا هم هغه مسائل چې د یو انسان د ژوند او د هغه په برخلیک کې مهم نخچ ولري تحقیق خورا مهم او اړین ګڼل کیږي، ځکه چې په دې عصر کې د انسان د رسوا کولو، بدنامولو او وژلو لپاره له راز راز عصري وسائلو، مهارتونو او بهانو څخه کار اخستل کېږي؛ نو پداسې حالاتو کې چټکې پرېکړې او فیصلې د تحسُّر (پښېمانتیا) پرته بل هېڅ څه نه رامنځ ته کوي.

له همدې کبله ویلای شو چې تحقیق او څېړنه نه یوازې د صالحو او نېکو خلکو صفت دی، بلکې دا دپیغمبرانو(علیهم السلام) صفت هم دی، تاسې د حضرت سلیمان(علیه السلام) په کیسه کې یوه شېبه له ما سره فکر وکړئ، کله چې هُد هُد ورته د سبأ د سیمې په اړه یو لنډ راپور راوړي او ورته وایي چې: په دې سیمه کې یوه مېرمن پر خلکو واکمني او د لوی څښتن تعالی پر ځای لمر ته سجدې کوي؛ نو سلیمان(علیه السلام) ورته وایي چې: ﴿قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾ [سورت النمل/ آیت ۲۷].

ترجمه: وویل(سلیمان (علیه السلام) چې) ژر به وګورو چې آیا تا رښتیا ویلي دي (ای هُد هُده!) او که ته له دروغ ویونکو څخه یې.

کاش چې د ننې عصر او د یوویشتمې پېړۍ مسلمانان د حضرت سلیمان(علیه السلام) دا ښکلې وینا له پامه ونه غورځوي چې کله هُد هُد ته وایي: مونږ به یې په اړه پلټنه او څېړنه وکړو؛.(۱) نو څه فکر کوئ چې په دې خبرې سره به زمونږ د افغاني ټولنې څومره ستونزې هوارې شي، جنګونه نسلونه ختموي او کورونه او کروندې له منځه وړي، که وسله والې ډلې مخکې له دې چې د چا د وژلو حکم صادر کړي، لومړی د قرآن د حکم سره سم تحقیق او پلټنه وکړي؛ نو یقیني خبره ده چې زمونږ په ګران هېواد کې به د زیاتو بې ګناه وینو تویولو مخه ونیول شي، که تحقیق او څېړنه رامنځ ته شي؛ نو بل لوري ته به د ډېرو هغو فاسده خلکو حقیقي څېړې به رسوا شي چې ټول عمر د خلکو ترمنځ د فساد او د مسلمانانو تر منځ د بدبینۍ د ترویجولو لپاره کار کوي او غواړي چې د دوی تر منځ د خپل منځي حسد اورونه بل کړي؛ نو د ټولنیزو ربړو او ناخوالو په هوارولو کې پلټنه خورا ارزښت لري.

په مهمو مسائلو کې د تحقیق او پلټنې نه کولو ناوړه اغېزې:

د انسان د وجود د مهمو او خطرناکو برخو څخه یوه هم ژبه ده چې د خورا اهمیت ترڅنګ زیات خطرونه هم لري؛ او له همدې کبله بې شمېره زیانونه هم رامنځ ته کوي؛ نو ځکه مونږ ته دېته اړ یو تر څو د مهمو خبرو په اړه دقیقه څېړنه ترسره کړو. تاسې یوه شېبه له ما سره په لاندینیو پوښتنو کې فکر وکړئ: د تحقیق او څېړنې په پروسه کې د بې پروایۍ او تساهل له کبله د څومره فتنو اورونه بل شوي دي؟ هغو خلکو چې د تحقیق پرته یوازې د تشو آوازو پر اساس د نورو خبره منلې، د څومره بې ګناه خلکو وینې یې توي کړیدي؟ د فاسقو خلکو په لاس څومره قدرمن خلک بې قدره شوي دي؟ د منافقو د منافقت له کبله څومره خواره دوستان سره بېل شوي دي او د هغوي صمیمانه اړیکې سره شلېدلي دي؟ د کورنیو جاسوسانو په لاس د همدې آوازو له کبله په څومره کورنیو کې د خاوند او مېرمنې تر منځ د محبت ځالې ویجاړې شوي دي او د هغوی د خواخوږۍ نه ډک ژوند له ننګونو سره مخ شوي دی؟ اولاد یې بې سرپرسته او د انحراف په کړو لارو باندې روان شوي دي. د همدې جاسوسۍ

له کبله زمونږ په هېواد کې څومره بې شمېره عامُ المنفعه(ټولګټې) تأسیسات ونړول شول،... دا سمه خبره ده چې مهمې پېښې تر شا مهمې پایلې لري؛ نو له همدې کبله په ټولنیز ژوند کې د مهمو خبرو په اړه تحقیق او تدقیق، پلټنه او څېړنه هغه غوره انساني صفت دی چې قرآن یې مونږ ته رازده کوي او مونږ ته د هغې ښودنه کوي.

سربېره پردې د حدیثو په علم کې د همدې مهمې قاعدې (تحقیق او څېړنې) پر اساس د جرح او تعدیل فن رامنځ ته شو او له همدې کبله محدثین او د حدیثو د علم متخصصین د هر هغه راوِي(روایت کوونکي شخص) په اړه چې د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) أحادیث راتلونکو نسلونو ته رانقلوي؛ د هغه د ژوند په اړه پلټنې پیل کړې؛ او د هغه د حافظې، عدل، تقوی او نورو مهمو ځانګړنو په اړه یې ځان ته بشپړ معلومات حاصل کړل؛ که چېرې په اسلام کې دې مهمې قاعدې شتون نه درلودلای؛ نو نن به د علم الرجال، علم الجرحِ و التعدیل، علوم چا نه پېژندل؛ نه به هم علماوو د یو حدیث لپاره له لرې پرتو سیمو څخه مدینې منورې ته سفرونه کولای؛ او نه به هم په اسلام کې د پلټنې او تحقیق مسئلې کوم ارزښت درلود.

بل لوري ته د همدې قاعدې پر اساس فقهاء کرامو یو مهم اصل رامنځ ته کړی دی او هغه دا چې: عادل قاضي د یوې پېښې په اړه د هر چا شهادت نه قبلوي، د فقهاوو ته د یو فاسق انسان شهادت او ګواهي او نارښتینې ژمنې هېڅ اعتبار نلري. څېړونکي په دې اړه سره ټول متفق نظر لري چې پورتنۍ قاعده هېڅکله هم ددې معنا نلري چې مسلمان دې د ژوند په هر کار کې څېړنه وکړي، ځکه چې د ژوند عادي کارونه خو هېڅ څېړنې ته اړتیا نلري، بلکې دا قاعده مونږ ته ددې ښودنه کوي چې د ژوند په مهمو چارو کې باید تحقیق وشي؛ خصوصا هغه مسائل چې د یو تن ژوند ورسره تړلی وي، د هغه په سرنوشت پورې تړلی خبره وي او داسې نور.....

د ژوند عادي مسائل تحقیق او پلټنې ته اړتیا نلري:

فقهاء کرام د پورتنیو ویناو په اړه وایي چې: دا پورتنۍ قاعده د ژوند په عادي او غیر مهمو چارو کې نشو کولای تطبیق کړو، د مثال په ډول: تاسې غواړئ د یو چا کور ته ولاړ شئ او کور ته د ننوتلو اجازه غواړئ؛ او د کور له دننه تاسې ته غږ وشي چې راځئ؛ نو په دې صورت کې تاسې کولای شئ چې پرته له تحقیق څخه د هغه کورته ورداخل شئ، پرته له دې چې تاسې په دې اړه له ځان سره فکر وکړئ چې: آیا دا شخص چې ما ته یې غږ وکړ، فاسق انسان دی او که صالح انسان، انجینیر دی او که ډاکټر....

دلته له پورتینو خبرو څخه هېڅکله هم زمونږ هدف دانه دی چې د هر چا په اړه باید بدګماني وکړو، بلکې پر هر چا باندې بدګماني کول هم د هوښیارتیا او ځیرکتیا نښه نده، تاسې به هم لیدلي وي چې زمونږ په افغاني ټولنه کې یو لړ خلک داسې شته چې دوی حتی پر نېکو خلکو هم بدګومانه وي، پداسې حال کې چې د بدګمانۍ لپاره دلیل به هم ورسره نه وي. ځیني علماء خو لا دا خبره هم کوي چې که چېرې د یو چا ښه خصلتونه او بدخصلتونه سره یو شان ول؛ نو تا ته نه ښایي چې ته پرې بدګومان وکړي؛ بلکې تا ته مناسبه داده چې ته پرې ښه ګومان وکړی.

د فاسقانود ویناوو په اړه تحقیق غیبت او ګناه نه ده:

امام مودودي (رحمه الله) (۲) په دې اړه یو ډېره په زړه پورې خبره کړې ده او وایي: د یو فاسق انسان په اړه تحقیق او پلټنه کولو ته هېڅکله هم باید د بدګمانۍ کولو نوم ورنه کړو؛ لکه: که چېرې د یو چا د ظاهري کردار، ویناوو او نظریاتو څخه داسې څرګند شي چې هغه سم سړی ندی؛ او منحرف افکار او فاسدې ارادې لري؛ تاسې ورڅخه د خطر احساس لرئ او په هغه کې د فساد نښې نښانې هم له ورایه ښکاره شي، او تر ټولو خطرناک دا چې دا شخص پلان هم ولري تر څو ستا حقوق پایمال او پر تا باندې ظلم وکړي؛ او له تاسې سره د هغوي د رزیله کارونو په اړه مُوجَّه او قوي دلائل هم شتون ولري؛ نو په دې حالت کې طبیعي خبره ده چې د هغه د ناوړه سلوک پر اساس پر دې ډول شخص باندې بدګماني کول جائز، بلکې ضروري ګڼل کېږي. اسلامي شریعت هېڅکله هم له مونږ څخه دا نه غواړي چې یو انسان ځان په سادګانو کې ووهي او ددې ټولو نېمګړتیاوسربېره بیا هم مونږ پر هغوی ښه ګومان وکړو ؛ بلکې دومره حده پوری پرې بدګماني کولی شو تر څو د هغه له شر څخه خپل ځان خوندي وژغورو؛ البته له حده زیاته بدګماني کول هم پرې جائزه نده.

په ورځیني ژوند کې د پلټنې او څېړنې ارزښت:

په ټولنیز ژوند کې زما ځیني ملګري کله چې د پیغمبر اکرم(صلی الله علیه وسلم) یو حدیث یا یوه مهمه دیني یا یوه مهمه اجتماعي مسئله بیانوي، زه ترې کله کله پوښتنه کوم چې دا مسئله مو په کوم کتاب کې لوستلې؟ له بده مرغه ډېر ځل داسې شوي دي چې دوی ته یې په خپله ددې خبرې سرچینه معلومه نه وي. ځیني وایي: یو چا خبره کوله، په یو اخبار کې مې ولوستل، په فیس بوک کې یې لیکلي ؤ او داسې نور ..... زیاتره مهال دا یادې سرچینې هېڅکله هم د اعتماد وړ نشي کېدلی. د مثال په ډول: که چېرې یو تن تاسې ته ووایي: دا دوا وخوره، ځکه دا دارو او درمل ٦٠ کاله د انسان عمر زیاتوي؛ آیا تاسې به دا خبره له هغه سره ومنئ؟ نو له همدې کبله ویلای شو چې: عاقل انسان اوهام او خیالي خبرې له نورو سره نشي منلای. یا مثلاً: یو تن تاسې ته راشي او درته ووایي چې: الله تعالی یو انسان له عمل پرته جنت ته داخلوي، یا په اسلام کې عمل مهم نه دی

یو ازې قول او ښې ویناوې کول مهمې دي؛ نو معلومه خبره ده چې دا ډول خبرې هېڅ ارزښت او صحت نلري، ځکه چې اسلام هم د قول او هم د عمل دین دی.

ددې مسئلې د لاښه وضاحت لپاره غواړو یو څو نور مثالونه ستاسې مخې ته کېږدو:

که یو څوک تاته راشي او د اِستِشارې(مشورې

غوښتلو) په توګه سره تا ته ووايي چې: زه غواړم د فلاني ځوان يا فلانۍ انجلۍ او پېغلې سره واده وکړم؛ او يا مثلاً زه غواړم د فلاني شخص په کوڅه کې کور په کرايه ونيسم او د هغه همسايه پاتې شم؛ يا غواړم د فلاني حاجي صاحب سره تجارت پيل کړم؛ يا له ماسره دومره مال او اجناس دي؛ او غواړم د فلاني سره يې د امانت په توګه سره کېږدم؛ نو په دې اړه ستا څه نظر دی؟ او له تاسې څخه مشوره وغواړي؛ نو په دې صورت کې پر تا باندی دا واجب دي چې ته به د هغه شخص ښه صفتونه او مثبتې نقطې، او يا قبائح (بد صفتونه) او رزيله اخلاق ټول به ورته څرګندوې، که امين شخص وي؛ نو د هغه په اړه بايد ورته ډاډ ورکړي او که خائن شخص وي؛ نو د هغه له شر څخه خپل دا مسلمان ورور بايد خوندي وژغوري، تر څو ستا دا مسلمان ورور په ناپوهۍ سره دوکه ونه خوري او د خاينينو خلکو په خپور شوي دام ګې ونه نښلي.

په سورت حجرات کې د تحقيق او پلټنې يادونه:

امام مودودي(رحمه الله) د حجرات په مبارک سورت کې په دې اړه ليکلي دي چې: په ټولنيز ژوند کې به تاسې هم ليدلي وي چې د يو شخص د دروغ ويلو په نتيجه کې د مسلمانانو تر منځ خونړۍ جګړې، خپل منځې عداواتونه او د حسادت خاموش اورونه بل شوي وي؛ نو د همدې لپاره مسلمانان بايد خورا ځيرکه واوسي او مخکې له دې چې د اقدام او غبرګون ښودلو هڅه وکړي؛ لومړی بايد پلټنه وکړي. له همدې کبله لوی ښښتن تعالی په دې سورت کې مسلمانان په مهمو ژوندنيزو چارو کې تحقيق او پلټنې کولو ته هڅوي او ورته ارشاد فرمايي چې: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ﴾ (سورة الحجرات/آية ٦).

ترجمه: ای مؤمنانو! که چېرې تاسې ته يو فاسق(بدکاره او ورانکاره انسان) يو مهم خبر راوړي؛ نو تاسې پکې تحقيق وکړئ(داسې نشي چې) په ناپوهۍ سره يو قوم ته (دهمدې دروغو پر اساس ستاسې د عکس العمل په نتيجه کې) کوم ضرر(زيان) ونه رسيږي؛ نو بيا به تاسې په هغه کار (فوري عکس العمل) چې تاسې تر سره کړې دی پښېمانه وګرځئ.

د سورت الحجرات دا مبارک آيت په اصل کې د ژوند د مهمو او بنسټيزو اصولو څخه يو اصل مونږ ته بيانوي؛ او هغه دا چې مسلمان بايد دومره ساده نه وي چې د هر چا په خبره باندې باور وکړي؛ بلکې که چېرې مسئله ډېر توده او حساسه وي؛ نو مسلمان ته د تر ټولو يو ځيرکه او عقلمند انسان په توګه سره د همدې مسئلې په اړه سمدلاسه څېړنه، او پلټنه (Investigation) پيلوي؛ ځکه مهم خبر له ځان وروسته مهمې پېښې رامنځ ته کوي او که چېرې په همدغسې حساسو شېبو کې د يو بې باوره انسان په خبره او نارښتينو ژمنو باندې باور شي؛ نو دا يقيني خبره ده چې اسلامي ټولنه به د ډېرو بحراني حالاتو او کړکيچنو پېښو سره مخامخ کړي چې بيا به له هغې وروسته پښېمانتيا او تبيُّن هېڅ ګټه ورته ونلري. په فارسي ژبه کې په دې اړه يوه په زړه پورې وينا شتون لري چې وايي: (خود کرده دارو ندارد).

په ځينو انسانانو کې دا ډول ناوړه صفت به تاسې هم ليدلی وي چې د يوې خبرې په اورېدلو سره سمدلاسه هڅه کوي چې اورېدلې خبره ژر تر نورو ورسوي، پداسې حال کې چې عاقل انسان د هرې خبرې لپاره مخکې له دې چې تر نورو يې ورسوي، لومړی د خپل ځان سره پرې فکر کوي، د عقل په ترازو کې يې تلي او د يو باتجربه، ځيرکه انسان سره مشوره هم پرې کوي، د هغې د حکم په اړه له يو عالم، استاذ او عاقل انسان سره سلا مشوره هم کوي او بيا يې په اړه سالم تصميم نيسي. دا مهمه قاعده چې په ژوندنيزو مهمو چارو او پېښو کې د پلټنې او تثبُّتْ قاعده ده، نه يوازې د يو باحِثْ(څېړونکي (لپاره د هغه په فردي ژوند کې خورا مهمه ده، بلکې په اجتماعي او سياسي ژوند کې حکومتونه هم بايددا قاعده له پامه ونه غورځوي او عمل پرې بايد وکړي، ځکه حتی اسلامي حکومت هم ددې قاعدې پر بنياد دا حق نلري تر څو د يو بې باوره شخص د وينا پر اساس يوه پرېکړه صادره کړي.

د پورتني درس لنډيز او مهم عملي ټکي:

- عاقل انسان هره خبره اوري؛ خو هره خبره نه مني.
- په اوسني عصر کې د مهمو خبرو او قضاياو په اړه تحقيق او څېړنه تر بل هر وخت خورا اړين عمل برېښي.
- څېړنه او تحقيق کول د پيغمبرانو(عليهم السلام)صفت دی.
- د سليمان(عليه السلام) کيسه له هُد هُد سره دا مونږ ته د پلټنې او څېړنې درس راکوي، او خصوصا دا خبره چې کله سليمان(عليه السلام) ورته وويل: زه به يې په اړه پلټنه وکړم.
- په افغانستان او نوره اسلامي نړۍ کې که چېرې مسلمانان د يو چا له وژلو څخه وړاندی لومړی تحقيق او پلټنه وکړي او دا کار مهم او قرآني حکم وګڼي؛ نو يقيني ده چې زمونږ د اسلامي أمت بې شمېره ستونزې به حل و فصل شي؛ او د ډېرو بې ګناه خلکو وينې به توی نشي.
- په مهمو مسائلو کې د پلټنې نه کولو منفي اغېزې هم بې شمېره دي؛ لکه: د خاوند او مېرمنې تر منځ بېلتون را منځ ته کېدل او د شيطان صفته انسانانو له کبله له يو چا څخه د هغه خواخوږي دوستان جلا کېدل او داسې نور....
- د جرح او تعديل علم پيړۍ وړاندی د همدې څېړنې په نتيجه کې رامنځ ته شوېدی.
- په ژوند کې زمونږ هر کار څېړنې ته اړتيا نه لري، بلکې يوازې په مهمو چارو کې بايد څېړنه تر سره کړو.
- که چېرې د يو چا ښه اوبد صفتونه سره يو شان ول؛ نو تاسې پرې د بدګمانۍ پر ځای ښه ګومان وکړئ.
- اسلامي شريعت هېڅکله هم له ما او تا څخه دا نه غواړي چې مونږ خپل ځان په ساده ګانو کې ووهو، د هر چا خبره ومنو او د هر چا په اړه ښه ګومان وکړو؛ بلکې مسلمان بايد خورا ځيرکه واوسي او له هر انسان سره د هغه اخلاقو او کردار سره سم چلند وکړي.

تطبیق تدریجی احکام اسلامی

ترجمه: عبدالخالق احسان

اسلامگرایان به حکومت رسیدند؛ اما به شریعت اسلامی حکم نکردند، مثل تجربه اسلامگرایان در ایام حکومت محمد مرسی در مصر و حکومت رجب طیب اوردغان و حزب عدالت و توسعه در ترکیه.

برای رد این شبهه، لازم است بدانیم که شریعت اسلامی بزرگتر از آن است که به برپایی حدود منحصر گردد؛ چنانچه انسان های شتابزده و کسانی که عاطفه و حماسه شان غالب است، می پندارند.

مرسی و اوردغان شریعت اسلامی را تطبیق نمودند، کسانی که ادعا عدم تطبیق را دارند، حقیقت اسلام را به معنی واقعی نشناخته و به ژرفای اسلام راه نیافته و سیاست شرعی را طوری که اسلام دستور داده و رسول الله صلی الله علیه و سلم و اصحاب بزرگوارش رضی الله عنهم ترسیم نموده اند، نفهمیده اند.

لذا آنانی که سیاست شریعت اسلامی را نمی شناسند، تسامح که از طبیعت و نشانه های اسلام است را تنازل از اصول دین تصور می کنند و کار مرحله ای و تطبیق تدریجی احکام اسلامی را رها کردن و زیرپا نمودن اسلام قلمداد می کنند. وقتی میبینند که که اوردغان و دیگران به صورت تدریجی و مرحله ی گام بر می دارند، این عمل شان را بیرون شدن از دین و کفر و الحاد می شمارند.

با وجودی که همه می دانند که در ترکیه دهها سال نظام سیکولاری حاکم بوده و بسیاری از شعایر اسلامی را نابود نموده بودند، به همه کسانی که قضایای ترکیه را دنبال می کنند معلوم است که ترکیه به فساد اخلاقی، اقتصادی و ضعف اعتقادی و عبادی و قضایی دچار گردیده بود و همه نظامیان مزدور بیگانگان شده بودند، این مسئله را همگان می دانند. هم چنان در مصر نیز وضعیت بهتر از ترکیه نبوده و فروپاشی اخلاقی و فساد گسترده در آن موج می زده است.

اما متأسفانه تعدادی از شتابزده ها، از همه این مسایل چشم پوشی کرده و از اسلامگرایان می خواهند که یک شبه امپراتوری های نظامی، رسانه ای و قضایی را سرنگون کنند، امپراتوری های که به دور از فرهنگ و میراث و شریعت این امت استحکام یافته اند.

سیاست (نفس طویل) نزد اسلامگریان، کار تدریجی، فعالیت مرحله ای و تسامحی که دارند، عین تطبیق اسلام است. برای اتمام حجت و آگاهی برادران حماسی مان و آنانی که به مصلحت اسلام حریص می باشند، برخی موقف های رسول الله صلی الله علیه و سلم را بیان می کنیم، کسی که اسلام را به خوبی تطبیق نموده و به اسلام عمل کرده و شریعت اسلامی را بر مسلمانان تنفیذ نموده است.

* رسول الله صلی الله علیه و سلم مسلمانان مستضعف را در حال شکنجه می دیدند، آل یاسر را به حالت مرگ مشاهده کردند، که ابوجهل جاهل، نیزه را بر شکم سمیه فروبرد، رسول الله صلی الله علیه و سلم، این وضعیت اسفبار را می دید و سکوت می کرد؛ آیا این سکوت پیامبر به معنی بی توجهی به مسلمانان بوده و نشانه سستی و سازش با مشرکان است؟ یا این که صبر و نفس طویل و حوصله مندی از طبیعت این دین است؛ تعدادی می گویند: این وضعیت در مکه بوده و دین کامل نشده بود؟ برای شان می گویم: وضعیت امروزی هم در مصر و ترکیه است که کفر و الحاد و فروپاشی اخلاقی به اوج رسیده بود. درست است که دین کامل شده؛ اما تدریج در تطبیق و تنفیذ احکام دینی به پایان نرسیده و در هر زمانی قابل ملاحظه است.

* رسول الله صلی الله علیه و سلم در دوران مدنی و زمانی که قوت و شوکتی داشتند، همراه مشرکین در حدیبیه صلح نمودند که آن صلح مملو از تسامح، تدرج و صبر و حوصله بود، حتی که حضرت عمر رضی الله عنه این صلح را سستی نسبت به دین تصور می کرده و سخن مشهورش به رسول الله صلی الله علیه و سلم گفت: آیا در دین خود ذلت را قبول کنیم؟ آیا تو فرستاده الله متعال نیستی؟ آیا ما مسلمان نیستیم؟ آیا آنها مشرک نیستند؟ پس چگونه از جهاد، عمره، مکه، سرزمین حرم و کعبه بر گردیم؟ و چگونه مسلمانان فراری را دوباره نزد مشرکان بر گردانیم؟. رسول الله صلی الله علیه و سلم در صلح حدیبیه شرایطی را قبول کردند که عقل مسلمان در ظاهر نمی توانست آن را قبول کند، اما رسول الله آن همه شرایط را قبول کرده و قرارداد صلح را امضاء کردند. آیا این اسلام نیست؟

* اتفاق رسول الله صلی الله علیه و سلم با یهود در مدینه منوره بخاطر حمایت و دفاع از مدینه مورد دیگری از سیاست شرعی اسلام است.

* حضرت عمر رضی الله عنه در سال خشکسالی و گرسنگی، حد سرقت را تطبیق نکرد.

همه این ها سیاست شرعی اسلامی است که رسول الله صلی الله علیه و سلم و یاران شان به آن عمل نمودند.

اسلام ما بزرگ است و شایسته است که در فهم و تطبیق آن نیز بزرگ باشیم و خویشتن را به علم و دانش مقاصد این دین، مصالح امت، فقه اولویات، فقه واقع و فقه موازنات آراسته ساخته و به رهبران دارای حکمت، تسامح، فهم، تجربه و درایت و تحلیل اعتماد نماییم. بزرگترین مبارزه ای که امروز امت ما به آن درگیر است، مبارزه فهم و آگهی می باشد.

سردردی
عوامل و جلوگیری

الحاج رنځوریار دوکتور اسدالله «صافی»

سردردی (Cephalalgia یا Headache) به معنا درد و ناراحتی در سر، جمجمه و یا گردن میباشد . سردرد ممکن است در یک طرف و یا هر دوطرف سر رخ دهد . بعضی اوقات سردرد فقط در یک ناحیه باقی مانده و بعضی اوقات از یک نقطه سر به نقطه دیگر حرکت می کند سردرد میتواند بشکل های مختلف مثلا درد شدید یا احساس ضربان در سر ویا درد مبهم و گنگ رخ دهد . سردرد ممکن است ناگهانی رخ داده و یا کم کم ظاهر شود درد آن ممکن است در کمتر از یک ساعت از بین رفته و یا برای چندین روز باقی بماند. خوشبختانه اکثرا سردردی ها نشانه یک مریضی جدی نبوده و افراد به تغیرات در سبک زنده گی و استفاده از تختنیک های ارامش بخش و بعضی اوقات مصرف ادویه جات میتوانند به مشکل خود غلبه نمایند.

انواع سردردی ها

آکادمی نیورولوژی امریکا سردردی ها را به چهار نوع اصلی تقسیم کرده است این چهار نوع عبارت است از :

۱)سردردی عروقی (Vascular Headaches) دلیل این نوع سردردی ها احتقان و تورم اوعیه میباشد. معمول ترین این نوع سردردی ها میگرن(Migrin) ' سردردی خوشه یی(Cluster Headaches) و سردردی سمی میباشد.

۲)سردردی انقباض عضلاتی (سردردی تنشی Tention Headaches) این نوع سردردی بدلیل سخت شدن عضلاتی صورت و گردن رخ داده و دلیل ۹۰٪ انواع سردردی ها میباشد.

۳)سردردی کششی (Traction Headaches) این نوع سردردی‌ها معمولا ناشی از کشش نواحی حساس به درد سر رخ میدهد.

٤)سردردی التحابی(Inflammatory Headches) این نوع سردردی ها نشاندهنده سایر اختلالات میباشد مانند التحاب ' سینوزید ' مننژیت و یا سکته مغزی رخ میدهد.

دلایل و علایم انواع سردردی ها

طوری که قبلا کفتیم شایعترین انواع سردردی' سردردی تنشی میباشد که در اثر خشکی و سخت شدن عضلات در شانه ' کردن ' جمجمه و الاشه رخ میدهد.

• سردردی ها تنشی ممکن است به استرس افسردگی ' اضطراب ' اسیب دیدن سر و یا حالتی که سر را نگاه میدارید در ارتباط باشد.

• سردردی های تنشی معمولا در هر دو طرف سر رخ داده ' اکثرا از پشت سر شروع شده و رو به جلو انتشار مینماید.

سردردی‌ها میگرن (Migraine headaches) سردردی های شدیدی هستند که معمولا همرای مشکلات مانند تغییر در بینایی و حالت تهوع رخ میدهد. سردردی های میگرن میتواند ضربان دار' کوبنده و تپنده باشد. این نوع سردردی معمولا در یک طرف سر شروع شده و بعضی اوقات ممکن است درد به طرف دیگر سر نیز سرایت کند.

محرک های مختلف مانند بعضی خوراک ها از جمله کاکاو' الکول ' بعضی از انواع پنیر ویا خوراک های حاوی منوسیدیم گلوتامیت عامل شروع این سردردی شوند.سردردی های برگشت کننده یک نوع سردردی میباشد که معمولا بعد از مصرف بیش از حد مسکن ها رخ میدهد. افرادیکه سه روز هفته از تابلیت های مسکن استفاده میکنند ممکن است دچار این نوع سردردی شوند. سردردی های خوشه یی(Cluster Headaches) نوع دیگری از سردردی بوده که به شکل سردردی شدیدد و دردناک خود را نشان میدهد و معمولا چندبار در روز در چند ماه متوالی رخ داده و بعدا از بین می‌رود.

سردردی های سینوزی (Sinus Headaches) این نوع سردردی بدلیل تورم ساینس ها باعث درد در پیشرو سر و صورت میشود. درد این نوع سردردی وقتی مریض خم می شوید و یا اول صبح که از خواب بیدار میشود در بیشترین حد خود میباشد.

تداوی سردردی

راهای زیاتی وجود دارند که با استفاده از آنها میتوانید به بهبود سردرد خود کمک کنید. برای تداوی خانگی و طبیعی سردردی میگرن می توانید به روش های ذیل به بهبود سردردی میگرن کمک نمایید.

* نوشیدن آب برای جلوگیری از خشک شدن بدن.
* استراحت در اتاق آرام و تاریک.
* گذاشتن تکه یخ برروی سر.
* استفاده از روش های آرام بخشی کی بلد

هستید.

برای تداوی سردردی تنشی که شایع ترین علت سردردی ها است میتوانید طوری ذیل عمل نمایید:

* میتوانید از ادویه جات مسکن مانند اسپرین بروفین و یا استامینوفن به مشوره داکتر استفاده نمایید.

* طب سوزنی نیز در تداوی برای سردرد تنشی موثر می باشد

* شاور به آب گرم یا سرد نیز در کاهش این نوع سردردی و بهبود آن کمک می کند.

* تغیرات ساده در سبک زنده گی میتواند به بهبود این نوع سردردی کمک نماید. مانند خواب کافی 'ورزش' تمرین عضلات گردن و غیره

* رژیم غذایی مناسب و سالم که حاوی سبزیجات' میوه و مواد معدنی است نیز در تداوی این نوع سردردی کمک کند.

* اگر سردردی تشنی مزمن باشد امکان دارد دلیل آن افسردگی باشد ' با تداوی افسردگی میتوانید این نوع سردردی را نیز بهبود بخشید.

جلوگیری از سردردی

- سگرت نکشیدن و ترک سگرت،
- ورزش منظم،
- رژیم غذایی مناسب،
- نوشیدن آب زیاد،
- عدم مصرف الکول و محدود کردن مصرف کافئین و شکر.

یاد فراموشی متعاقب، صدمات خفیف دماغی (Post Traumatic Amnesia (PTA

آمنزی عبارت است از اختلال یا از دست دادن حافظه به علت وارد شدن صدمه به مغز یا ضربه عاطفی شدید.

آمنزی از کلمه یونانی گرفته شده که به معنا فراموشی است ' یعنی فقدان یا از دست دادن حافظه و ناتوانی در به یاد آوردن تجربه های گذشته است .

فراموشی بعد از ضربه مغزی به دو شکل اشکار میشود:

۱- به شکل انتروگراد(Ainterograde amnesia)

این شکل طوری است که مریض نمیتواند وقایع پس از ضربه سر بخاطر اورد ' مدت زمان یاد فراموشی متعاقب صدمات دماغی از شروع بیهوش شدن مریض ته زمانی است که با هوش آمده و حافظه انتروگراد وی به حالت طبیعی برگردد' هر چه مدت یاد فراموشی متعاقب صدمات دماغی طولانیتر باشد شدت ضربه نیز بیشتر میباشد.

۲- به شکل ریتروگراد(Retrograde amnesia)

عبارت از ناتوانی در بخاطر اوردن وقایع مربوط به قبل از بروز ظربه مغزی است ومدت ان ارتباط اندکی به شدت ضربه مغزی دارد ' طول مدت یادفراموشی ریتروگراد تقریبا همیشه کمتر از فراموشی انتروگراد میباشد و بخش اعظم ان معمولا در چند روز اول پس از ضربه به مغز برطرف میگردد.

انواع آمنزی

• آمنزی پیش رونده یا anterograde در این شکل اختلال در حافظه رویداد های که پس از شروع فراموشی به وقوع پیوسته است ' در این شکل مریض ناتوانی در شکل دادن حافظه جدید میداشته باشد.

• آمنزی محدود یا Circumscribed از بین رفتن خاطره تمام وقایع یک دوره زمانی خاص

• آمنزی مداوم یا Continuous از بین رفتن حافظه تمام رویداد ها از زمانی خاص که تا زمان حال ادامه داشته باشد.

• امنزی تجزیه یی یا Dissociative نوعی از اختلال تجزیه یی است که به از دست دادن ناگهانی خاطره اطلاعات شخصی مهم مشخص میشود و معمولا محدود بوده یا به ندرت عمومی یا مداوم است ' این فراموشی ممکن است به دنبال استرس شدید ایجاد شود این نوع یادفراموشی به طور کامل بهبود میابد.

• آمنزی رویدادی یا Episodic فراموش کردن رویدادی خاص یا بخش کوچکی از یک تجربه است

• آمنزی عمومی یا Generalized فراموش کردن یا ازدست دادن تمام حافظه زنده گی گذشته است

• آمنزی کودکی یا Infantile عبارت از ناتوانی در بخاطر اوردن رویداد های زمان شیرخوارگی و اوایل دوره کودکی است و بسیار معمول میباشد

• آمنزی حفره یی یا Lacunar عبارت از بین رفتن بخشی از حافظه و یا بعضی از تجربه های زنده گی است

• آمنزی Neurological یک نوعی از یادفراموشی است که به علت مریضی یا وارد شدن صدمه به سیستم عصبی میباشد.

• آمنزی پس از ضربه مغزی یا Postconcussion عبارت از آمنزی است که پس از وارد شدن ضربه به مغز ایجاد میشود.

• آمنزی پس از ضربه یا Posttraumatic عبارت از فراموشی ناشی از ضربه به سایر قسمت های سر میباشد.

• آمنزی پس رونده یا Retrograde عبارت از ناتوانی در بخاطر اوردن رویداد های که پیش از آغاز واقعه آمنزی اتفاق افتاده است

• آمنزی انتخابی یا Selective عبارت از ازبین رفتن خاطرات گروهی از رویداد های مرتبط و بدون اختلال در رویداد های دیگری که در همان دوره زمانی اتفاق افتاده است.

• آمنزی حسی یا Tactile عبارت است از بین رفتن قدرت یا ناتوانی در درک شکل و ماهیت اجسام با لمس آنها است .

• آمنزی موقت کلی Transient global عبارت است از دست دادن حافظه کوتاه مدت که معمولا دوباره اتفاق نمی افتد و چند ساعت طول میکشد علت این حالت معلوم نیست ولی گاهی ممکن است به علت حملات صرع یا ایسکمی به وجود آید.

• آمنزی دیداری یا Visual این نوع فراموشی را Alexia نیز میگویند و عبارت است از یک نوع افازی اخذوی(Receptive aphasia) است که طی آن ناتوانی درک کلمات نوشته شده زبان مادری به علت وجود ضایعات مغزی به وجود میاید.

عبدالله بن مبارک (رحمه الله)

د رښتینې زاهد بېلګه!

(دریمه برخه)

لیکنه: استاد علي طنطاوي

ژباړه: قاضي محمد حسن اسلامي

جود او سخا یې:

ده درې ستري ځانګړتیاوې لرلې، د علم سالاري، جګړه‌ییز شجاعت، مالي پراختیا، خو دا درې یې ټولې ځانګړتیاوې نه دي، د ده نورې ځانګړتیاوې هم شته، هغه تاجر چې عالم هم وي، شجاعت او زړورتیا هم ولري، نو پرته له خپلې ښېړنې او نژدې ګټې نور څه نه پېژني.

خو دغه تاجر تردې لازیات هوښیار ؤ، چې تر راتلونکې ډېرې ګټې په دې لړه ښېړنې ګټه اکتفاء وکړي، داسې نه ؤ چې په سلو کې په پنځه یا لس ګټه راضي شي، بلکې غوښتل یې چې په سلو کې په هره یوه اویا زره وګټي او ډېر ځله خو په دغه تجارت کې هر سل یې، یو سل او څلوېښت زره شي.

پوهېږئ دا کوم تجارت دی؟

درنو لوستونکو! دا له الله تعالی سره سودا ده، د صدقاتو تجارت، چې یوازې د الله لپاره تجارت کوي، نه د بل شي لپاره، هغه به هر کال سل زره علماوو او مجاهدینو ته ډالۍ ورکولې، او ډېرو ته خو د دې عالم تاجر د صدقاتو له صندوق څخه دایمي تنخواوې مقررې وې.

حقیقت دا دی چې هغه ته په دې زورنه وشوه چې ولې مالونه د نورو ښارونو په خلکو وېشي او په خپل ښار کې دا کار نه کوي؟

نو ده وویل: زه د هغه قوم قدر ښه پېژنم چې د رښتینولي او فضیلت خاوند وي. حدیث یې ښه زده کړي او ښه ځان یې پرې پوه کړی دی، په داسې حال کې چې خلک ورته اړمن دي، که مونږ دوی له پامه وغورځوو، نو دا علم له دوی څخه ضایع کېږي او که پاملرنه ورته وکړوو نو دا علم به خپور کړي.

ده به د عیاض زوی فضیل صیب ته ویل: که چېرې ته نه وې او ستا ملګري نه وي ما به سوداګري نه وای کړې.

د هغه د ورکړې کچه دومره زیاته وه چې نږدې ده چې څوک یې ونه مني، یو مثال یې دادی: وایي کله چې د حج په سفر تلو د (مرو) د علاقې ملګري یې ورته راټول شول.

ورته ویل یې:

ابوعبدالرحمانه! مونږ دې ملګرتیا وکړو؟

ده ورته وویل: هو! بیا یې دوی ته امر وکړ چې د حج د مصارفو له پاره برابرې کړې روپۍ ټولې ماته راوړئ، هغه یې ترې واخیستې ، په یوه صندوق کې یې واچولې او قلف یې کړې، بیا دوی ته یې د سورلي لپاره ښه ښه څاروي په کرایه ونیول، په لارو کې یې ښه مزه دار خوراکونه پرې خوړل، ښې حلواوې او شرینې باب یې ورکول، تردې چې بغداد ته ورسیدل، هلته ښکته شول، له هغه ځایه یې د سامان او ضروریاتو له پوره کولو وروسته د مدینې منورې پر لور حرکت ورکړ، تر دې چې مدینې منورې ته ورسیدل، هلته یې هر سړي ته وویل: آیا کورنۍ مو له مدینې څخه د څه تحفو او هدیو د راوړلو فرمایشونه او سپارښتنې درته کړې دي؟

دوی ویل: هو!

ده به ورته ویل: وایه څه څه شي یې در څخه غوښتي؟

هغه به خپل لست ورته کتار کړ چې دغه او هغه، هغه...

ده به هغه بشپړ ورته و پیرودل، کله چې مکې مکرمې ته راغلل بیا یې همداسې وکړل، څه چې چا غوښتل ټول یې ورته واخیستل، بېرته چې را وګرځیدل او (مروې) ته را نژدې شول نو د هر حاجي کور ته یې د هغه د کور د صفا کولو، سپینولو، ترمیمولو او ښایسته کولو لپاره پیسې ولېږلې، په دریمه ورځ یې مجلله میلمستیا برابره کړه، ټولو ته یې د ګډون بلنه ورکړه، هر یوه ته یې نویې جامې ورکړې او بیا یې صندوق را وغوښت، هغه یې خلاص کړ، هر چاته یې خپلې خپلې پیسې پوره پوره بېرته ورکړې.

نوکر یې کیسه کوي چې ددې میلمستیاوو وروستنۍ میلمستیا کې یې پنځه ویشت دسترخوانونه غوړویدلي وو، او په هر یوه یې فالوده هم ایښې وه.

هغه به په جهاد کې (المصیّصه) نومې ځای ته تلو(داپه سوریه کې د روم خواته یو مشهوره او خطرناکه چوڼۍ وه) یو ځلې د صوفیانو یوه رضاکاره ډله جهاد ته ورسره ملګرې شوه، دوی ته یې وویل:تاسو دداسې نفسونو خاوندان یې چې څوک څه درکړي په هغو ځان سینګاروي او سمبالوي، یو طشت یې راوغوښت پر سر یې یو رومال وغوړاوه، دوی ته یې وویل: د هرچا سره چې څه مال وي هغه د ټول تردې رومال لاندې واچوي، یوه به لس درهمه اچول بل شل درهمه، روان شول، کله چې(المصیّصه) ته ورسیدل، ورته ویې ویل دا د نفیر(جګړې ځای دی) څه مال چې پاتې دی هغه به وویشوو یوه یوه سړي ته شل شل دیناره ورکړل، چا ورته وویل:

ابوعبدالرحمانه! ما خو شل درهمه درکړي وو، ده ورته وویل: ته دا نه مني چې الله تعالی د غازي په مال کې برکت اچوي.

یو ځلې یو سړی ورته راغی چې پوروړی یم هغه راته خلاص کړه، په دې اړه یې خپل وکیل ته لیک ورکړ، کله چې وکیل ته یې لیک ورسید نوله دې سړی څخه یې پوښتنه وکړه:

- ته څومره پوروړی یې؟

ویل یې: اووه سوه درهمه.

وکیل لیک ته وکتل چې د اووه سوه زرو امر

یې ورته کړی دی، نو(لیک یې بېرته ځواب کړ) ورته ویې لیکل: تاخو اووه لکه ورته لیکلي او ددې سړي(پور) اووه سوه دی، مال اوغلې هم مخ په خلاصیدو دي لږ شي پاتې دي.
ابن مبارک صیب بېرته ورته ولیکل: د عمر ورځې هم تللې دي، ډېر څه ترې پاتې نه دي مګر لږ، په څه چې زما قلم چلیدلی دی هغه ورکړه.
عبدالله صیب چې کله د سنګر پر لاره (الرقة) ته ورسید، په یوه پړاو کې یې د هغه وخت په یوه هوټل کې واړول، یو ځوان د دوی د خدمت او اړتیاوو د پوره کولو لپاره ورته ګرځیده، او له ده څخه به یې حدیث اوریده.
یو ځلې عبدالله (رحمه الله) (الرقة) ته راغی خو هغه ځوان یې ونه لید، د هغه بیړه وه خپل مورچل او سنګر ته لاړ، چې بیا (الرقة) ته را وګرځید نو د ده په هکله یې پوښتنه وکړه، چا ورته وویل: هغه د خپل پور له کبله بندي شوی دی، ابن مبارک (رحمه الله) د پور خاوند لټون پیل کړ چا ور وښود، د شپې له خوا یې راوغوښت او لس زره درهمه یې ورکړل او د هغه پوروړي ځوان د خلاصون امر یې ورته وکړ، او ژمنه یې ترې واخیسته چې تر څو عبدالله(رحمه الله) ژوندی دی چا ته به حال نه وایې.
* ځوان چې له بندیخانې راووت، چا ورته وویل: عبدالله ابن مبارک (رحمه الله) راغلی ؤ، څه وخت دلته ؤ او لاړ، دي ورپسې سپور شو ترڅو ځان یې ور ورساوه، عبدالله صیب ورته وویل: دکان (هوټل) ته درغلی وم ته چېرته وې؟ ما خو هلته ونه لیدې.
ځوان ورته وویل: هو! ابو عبدالرحمانه! زه د څه قرض په سبب بندي وم. ده ورته وویل: نو بیا څه ډول خلاص شوې؟
ځوان: یو سړی راغلی ؤ او زما پور یې خلاص کړی ؤ، ما نه پېژنده او نه پرې پوه شوم چې څوک ؤ؟ خو زه یې له بندیخانې را وایستلم.
ده ورته وویل: ځوانه! د الله شکر وباسه چې هغه ته یې ستا د پور د خلاصولو توفیق ورکړ. هغه سړي تر هغو پورې څوک خبر نه کړل خو چې عبدالله ابن مبارک(رحمه الله) ژوندی ؤ.
یو ځلې حج ته روان شو له ځینو ښارونو چې تېر شو، هغه الوتونکی چې ورسره ؤ مړ شو، کثافت داني ته یې د هغه د غورځولو امر وکړ، ملګري یې مخکې دي، او خپله د کاروان په آخر کې روان دی، ناڅاپه یې په یوه نجلۍ سترګې ولګیدې چې له یوه کوره راووته، کثافت دانی ته نژدې واقع ؤ، په کثافت داني توشه شوه هلته پروت مردار مرغه یې راپورته کړ، ژر یې په څه شي کې تاو راتاو کړ، د کور په خوا یې و ځغلاوه، عبدالله صیب ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه: چې دا څه چل دي چې مرداره د را واخیسته، پدې څه کوې؟
نجلي په ژړغوني آواز وویل: دلته زه او ورور مې اوسیږو، مونږ پرته له دغې لنګ چې په تن مو دی نورڅه نه لرو، په دغې کثافت دانی کې له غورځول شویو شیانو پرته نور د خوراک څه نه لرو، له څه وخت راپدېخوا مونږ ته د ناداري او ناچارۍ له کبله دغه مردار شیان روا دي، زمونږ پلار ښه شتمن سړی ؤ، چا په ظلم سره وواژه او مال یې ترې یووړ.
ابن المبارک (رحمه الله) د کاروان د را ګرځولو امر وکړ، خپل وکیل ته یې وویل: د خرڅ (مصارفو) څومره مال درسره پاتې دی، هغه وویل: زر دیناره.
ده ورته وویل: شل دیناره ترې وګرځوه چې تر(مروې) پورې زمونږ بس کیږي، نور پاتې پیسې دوي ته ورکړه، دغه کار تر سرني حج مونږ ته غوره دی... او بیرته راوګرځیدل.

زهد او تقوا یې:

لکه چې ومو لیدل، هغه د لویو حدیث پوهانو، زړورو مجاهدینو ، د شتمنو تاجرانو له غوره او پر خلکو له آساني کوونکو تاجرانو څخه ؤ.
.ډېر کم داسې واقع کیږي چې دومره ډېرې او ښې ځانګړتیاوې دې په یوه سړي کې راغونډې شوي وي
خو په ده کې له دې نورې زیاتې هم شته. د ده یوه ستره ځانګړتیا چې په شتمنو او غنیانو کې په ندرت موندل کیږي ، هغه زهد او تقوا ده. له دې ټولو سره هغه داسې یو زاهد ؤ چې ددنیا پروایې نه ساتله، او نه یې د هغه حرص لاره. ما ل یې کټلو نه د دې له پاره چې خزاني پرې ډکې کړي، او په صندقونو کې سر په سر یو د بل د پاسه کیږدي، او نه ددې په پار، چې فاني مزې،چرچې پرې وکا، یا خپل وهمې پرتم پرې غښتلی کړي،. چې نه وړي موړ کړي، نه د کوم نا آرامه د مجبوریت د اور لمبې پرې مړې کړي، نه ورثوو ته یې په میراث پریښودل غواړي چې مزې او ګټې به هغوي پرې کوي او حساب به یې پر ده وي.
لکن ده مال ګټلو ددې له پاره چې تر ځانه یې مخکې آخرت ته ولیږي (خپله توښه پرې برابره کړي).
دسترخوان به یې په اوښانو او ګاډیو بار کړي وو، چې کباب کړی چرګان، فالوده، غوښې او حلوا پکې وي، په خلکو ته به یې له دا خوړل، خو په خپله به روژه ؤ، روژه به یې په لږ څه ماتوله.
یو ځلې یوشمیرخلک له مصر څخه مکې مکرمې ته ورسره ملګري شول، په دوي ټولو به یې حلواوي او مرباوې خوړولې خو خپله به روژه ؤ.
هغه زیاته تنهایې او په کور ناسته خوښوله، چا ورته وویل: آیا د وحشت او تنهایي احساس نه کوي؟
ده وویل: ولې د وحشت او تنهایي احساس وکوم، په داسې حال کې چې زه له خوږ نبي او له پاکو صحابوو سره یې وم.(د رسول الله د حدیثو کتابونه ګورم).

د زاهدانو توښه:

دا یو له هغو خوندورو شیانو څخه ده چې زاهدانو، متقیانو او مؤمنانو تر لاسه کړي ده، چې نفسونو ته بشپړ آرام ښې، زړونو ښه پوره غښتلی کوي ، هغه چې د دنیا مینه وال هغه هر څه بولي، په زاهدانو پسې به یې اقتدا کوله. چې له دې خوند څخه مجروم نه شي، هغه خوند چې دوي څکلو که واکمنانو او پاچاهانو څکلی وی، نو د دوی سرونه به یې په تورو غوڅ کړی وو.
ورعه او تقوا یې:
د دنیا په مالی تاوان او د راحت په له منځه تللو یې هیڅ پروا نه وه خو چې آخرت یې سلامت پاتې شي، یو ځلې یې د شام په زمکه له چا څخه قلم په استعاره واخیست او ورسره هیر شو، ترڅوخپل وطن خراسان ته راورسید چې وریاد شو، بیرته یې شام ته سفر وکړڅو قلم یې بیرته خپل څښتن ته ورکړ.
هغه به تل دا خبره کوله:
د یوه اشتباهي درهم بیرته خپل څښتن ته ورګرځول تر سل زره درهمه صدقه ورکولو راته خوښ دي، هو! تر یو لک، تر یو لک او یو لک (دا خبره یې دري ځلې تکرار کړه) .
نور بیا

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
د اسلام د اصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعار ما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

مژده برای علاقمندان کتاب

کتاب، دروازه ای است به سوی جهان گسترده دانش و معرفت. کتاب، همچون خورشید، فضای زندگی را روشن می کند و به همگان نور، شور و گرما می بخشد. کتاب، مثل باران بر سرزمین دل ها می بارد و اندیشه ها و کردارها را رونق، زیبایی و طراوت می دهد و انسان را به بلندای علم و دانش می رساند.
جمعیت اصلاح افغانستان به غرض بلند بردن سطح علمی ومعلوماتی هموطنان عزیز کتابخانه ی به نام سیدجمال الدین افغان را تأسیس کرده و این کتابخانه در خدمت شما عزیزان است و می توانید از این فرصت استفاده کنید. این کانون کتاب با بخش های:

- تفسیر و علوم قرآن
- حدیث و اصول حدیث
- فقه و اصول فقه
- تربیت و دعوت
- سیرت نبی علیه السلام و سیرت صحابه رضی الله عنهم
- داستان انبیاء علیهم السلام
- عقیده و فکر
- تزکیه و تصوف
- زن وخانواده
- اقتصاد
- طب
- انجنیری
- جغرافیه و تاریخ
- ادیان و مذاهب
- معاجم
- کمپیوترساینس
- ژورنالیزم
- زراعت و دامداری
- سیاست
- حقوق
- زبان و ادبیات
- روان شناسی
- جامعه شناسی
- دایرة المعارف
- شخصیت ها
- و...

استفاده از کتابخانه رایگان است

فرصتی است برای شما در تحقق آرزوهای شما؛ بیایید از این فرصت طلایی برای رفع عطش علمی خود استفاده نماییم و به بلندای علم و دانش قدم گذاریم.

اوقات استفاده از کتابخانه سیدجمال الدین افغان:
این کتابخانه از ساعت ۸:۰۰ صبح – ۵ عصر در خدمت شماست
روزهای شنبه خاص برای خانمها

آدرس: خوشحال مینه؛ عقب بلاک های شاداب ظفر، کوچه اصلاح، کتابخانه سیدجمال الدین افغان. شماره تماس: ۰۷۰۰۱۷۲۴۵۶

چینه

CHEENA Sanitary Fittings Industry

فابریکه تولیدی لوازم تشناب

اولین فابریکه تولیدی لوازم
تشناب با پنج سال گرنتی

آدرس: پکتیاکوټ، نساجی سابقه کابل
f/ Cheena Sanitary Fitting industry
0789090677

اصلاح ملي

د تېرو کلونو کلکسیونونه

آدرس: د جمعیت اصلاح مرکزي دفتر - تیمني سابقه - څلورمه کوڅه
شمېره: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943